


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## مجیب الرحمن « خطیبي »

د نشر نېټه : ۱۶ می ۲۰۱۴ میلادی

# چې بس ته په زړه شي ..

دزړه چیغه می دعا شی چې بس ته په زړه شی
قلم د واره په ژړا شی چی بس ته په زړه شی

ځینی خبری خولی ته راشی خو سلګی شی بیرته
ترخه یادونه می ګویا شی چی بس ته په زړه شی

اوښکی مې وایې چې راځه لاهو شه ما کی مګر
واړه موجونه یې بلا شی چې بس ته په زړه شی

هر خوا چې ګورمه تورتم دی روښنایی نشته ده
یو دم تورتم راته ضیا شی چې بس ته په زړه شی

اغیار تل غلی مرور زړه می په کانوولی
مرورزړه می بیا پخلا شی چې بس ته په زړه شی

چوپه چپتیا ده بی لتا زړه کې غوغاورکه ده
په مجیب جوړه واویلا شی چې بس ته په زړه شی

****

مجیب الرحمن « خطیبي »

5/2/1393

بازګشت به صفحه اصلی –www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است